یوویشتم پودکاست

## بشري پانگه «دویمه برخه»

داود جنبش: السلام علیکم، دا له ولسمشر محمد اشرف غني سره د هیوادنیو ارزښتونو په اړه، د غږېدو پرله پسې لړۍ ده. دې ګڼه کې هم د تېرې هغې په څېر، د بشري پانګې پر ځینو نورو اړخونو د هغوی نظرونه او اندونه اورو. من داود جنبش استم. همهء شما را به این برنامه نوبتی خیر مقدم میگویم.

رئیس جمهور غنی به برنامه دیگر از سلسله پودکاست های د ژوند لاره - راه زندگی، خوش آمدید.

دوکتور غنی: بسم الله الرحمن الرحیم. تشکر جناب جنبش صاحب از شما، و سلام های گرمم، خدمت همه خواهران و برادران عزیز، و همه وطنداران ما در هر گوشه دنیا و خاصتاً در کشور عزیز ما.

داود جنبش: بسیار تشکر، ډېره مننه استاده. په تېره ګڼه کې، اورېدونکو ته به په یاد وي، چې موږ د بشري پانګې هغه عمومي اساسات ودرلودل، خبرې مو پرې وکړلې، اوس به ځینو مشخصو برخو ته راشوو، افغانستان سره په رابطه کې به ډېر تم شوو. د بشري پانګې په برخه کې د عصري زده‌کړو او د زده‌کړو په مجموع کې یادونه وشوه. دې برخې کې مې لومړۍ پوښتنه دا ده چې د عصري زده‌کړو تاریخ له کومه راځي؟ ریښه یې له کومه ځایه ده؟ او اړتیا یې څه وخت درک شوه؟

دوکتور غني: یو عمده عامل د ملت - دولت مفکوره وه، او دا عموماً له شپاړلسمې پېړۍ نه تر نولسمې پېړۍ ټینګ شو، نولسمې پېړۍ کې اوج ته ورسېد. او بله برخه د دې، خاصتاً په ټکنالوجی پورې تړلې ده، چې د چاپ ماشین و، چې د ګوتنبرګ له خوا پنځلسمې پېړۍ کې اختراع شو، او ډېر زر، دا زمینه یې برابره کړله چې کتابونه، اول په زرها بیا په میلیونونو باندې خپاره شي؛ نو لوستونکي پیدا شول. د فرانسې انقلاب او آلمان کې مخکې له هغه نه، لویي فریدریک، چې د یو مرکزي حکومت بنسټونه یې کېښودل، ډېر لوی ګامونه دي، مګر پس د فرانسې له انقلاب نه، دا په عمومي توګه، خاصتاً د هغو حرکتونو، خوځښتونو له خوا، چې ملت جوړونې باندې متمرکز وو، لکه ایتالویانو غوندې، المانیانو غوندې، فنلند یې یوه بله نمونه ده؛ ملی ادبیات مطرح شوو، ژبې د لاتین له سیوري نه ووتلې، په ملي ژبو باندې بدلې شولې او ژبه د ملت یو عمده تعریف شوو. او څنګ د دې کې، اداري برخې د دولتونو ضرورت حرفوي خلکو ته درلود، او د دغو خلکو روزنه د لومړنیو مکتبونو، او پس له هغه نه ثانوي لیسو او بالآخره پوهنتونو باندې بدل شول چې دا ټول چې سره وتړئ، اساس د دې بِردي چې څنګه بشري پانګه، هم د ملي احساساتو د انتقال، تحکیم او جوړولو لپاره؛ او هم د دولتو د خدماتو د عملي کولو لپاره، او بیا د لویو ملي خوځښتونو د سمبالولو لپاره،

ټول سره لکه د سیند ځانګې چې وي، په یو لوی سیند باندې بدل شول. او پس له آلمان نه، چې لوی‌ترین حرکت یې په نولسمې پېړۍ کې راوړ، او دا یې په صنعتي کېدلو بدل کړل، برخلاف د مرکزي اروپا، انګلستان چې له اقتصادي نظر نه ډېر مخته تللی هیواد و، پوهنې باندې ډېره کمه پانګه اچولې وه او پسته یې د دې قیمت ورکړ. او پس له هغه نه امریکا ده، چې په نولسمې پېړۍ کې، او خاصتاً شلمې پېړۍ کې یې لومړی د آلمان طریقې باندې خپل اساسونه کېښودل او پس له هغه نه واقعاً یو امریکایي خاص سیستم برابر شو، چې بیا نړیوال حرکت باندې بدل شو.

داود جنبش: رویهمرفته، تعلیم به عنوان یک حق مردانه شناخته شده بود، و زنها ابتدا شامل آن نمی گردیدند. این حالت چه وقت تغییر کرد و امروز از نظر حقوق اساسی انسانی، به تعلیم چه نگاهی وجود دارد؟ یعنی به عنوان یک حق شناخته میشود یا مسؤلیت؟

دوکتور غنی: در قسمت اول، اگر قرن ۱۶ را ببینید، مخصوصاً دوره رنسانس را در ایتالیا ببینید، نقش خانم‌ها حاشیوی نبود، اما با بوجود آمدن سیستم ناپلیون و تعلیمات عصری، چون یک بخش تعلیمات متوجه نظامی شدن بود. تعلیمات نظامی به شکل عصری، بعد از عصر ناپلیون، به یک پروسه منسجم بدل شد، و این مرد محور بود. حرکات تعلیم برای دخترها و حق خانم‌ها ابعاد مختلف دارد. در قرن نوزده شروع آنرا می بینیم و مرتبط میشود به حق رای هم، چون خانم‌ها از رای محروم بودند. اکثریت کشور های اروپایی، و هم بعد از آن امریکا، خانم‌ها را حق رای دادن نمی دادند، اما سلسله ییکه به وجود آمد، ایجاد مکاتب منفردی که منحصر برای دخترها بود، و بعد از آن پوهنتون های خاص؛ طور مثال در امریکا یک سلسله پوهنتون‌هاست، که خاصتاً در مرحله اول تنها برای خانم‌ها تشکیل شده بود، و در مرحله دوم، یا به پوهنتون های عمومی مبدل شدند، و یا هنوز هم تعلیم های پوهنتون های خاص وجود دارد، که تنها در آن خانم‌ها اشتراک میکنند. تغییر عمده در سهم خانم‌ها در تعلیمات، اول در چارچوب جنگ دوم جهانی آمد، چون میلیون‌ها خانم به کار کارخانه‌ها و همچنین در بخش های اطلاعاتی وغیره مصروف به کار شدند. بعد از جنگ دوم جهانی، باز هم یک حرکت ضد خانم‌ها به وجود آمد، اما تغییر بنیادی که دوامدار بود، از دهه ششم بعد از میلاد شروع شد، و تداوم آنرا تا امروز می بینیم.

مسئله حق یا مسؤلیت...، حقوق اجتماعی به تدریج حاصل شد. طور مثال، قبلاً که ذکر کردم، حق رأیدهی در اکثریت کشور های اروپایی نهایت محدود بود، انگلستان خاصتاً یک نمونه اینست، که پیشرفته ترین نظام مردم سالار بود؛ اما مردم در این نظام مردم سالار یک اقلیت بودند، ملکیت به آن ارتباط داشت، و به مرور زمان این بعد از مجادله های نهایت زیاد سیاسی، وسیع‌تر شد. در این ضمن اساسات حق تعلیم، به یکی از حقوق عمده بشری بدل شد، تعلیم به حیث یک حق شناخته شد. آلمان و یک قسمت کشور هایی که نزدیک به آن بودند و نظام آلمان را انتخاب کردند، تنها مسئله را به حق نگرفتند، بلکه به یک مسؤلیت بدل کردند. به این معنی، که یک طفل مسؤل است و والدینش مسؤل استند، که باید با تعلیم مجهز شود، چون بدون این، رقابت کرده نمی توانند، و چون آلمان عقبمانده بود، و فشارش سر صنعتی شدن و عصری شدن بود، تمرکز بسیار خاص هم سر بخش هایی داشت، مثل تعلیمات حرفوی،

انجنیری، کیمیا وغیره، که در انقلاب دوم صنعتی نقش زیاد داشت. هنوز هم یک تنش در بین هر دو وجود دارد، اما راه حل این نیست که حق است یا مسؤلیت است، بلکه مسئله ترکیب هر دو است، هم حق است، هم مسؤلیت است؛ و مسؤلیت، هم از خانواده است، هم از جامعه است، هم از دولت است، که باید هر سه این دست به هم بدهند، تا شرایط را برابر کنند. و از طرف دیگر حق است، از جهتی که، مثلی که در قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان وجود داشت، دولت مسؤل اجرای حقوق است. اعلامیه های بین‌المللی مثل اعلامیه حقوق بشر، نهاد اجرائیوی ندارد. تمام معاهده هایی که صورت میگیرند، پس مربوط میشود به دولت. بنابر این با شرایط متغیر قرن بیست و یک، راه های ابتکاری و ناب باید پیدا شوند، که تعادل حق و مسؤلیت را با هم ترکیب کند، و اجراء اش کند.

داود حنبش: بیخي ژور بحثونه دي، خوندور دي، که چیرې یې خپل هیواد سره ونښلوو، اوریدونکو ته به لا په زړه پورې شي. دا چې تعلیم دلته څنگه و، حق و که مسؤلیت؟ تاسې به راته پرې وغږیږئ، خو زه به لومړی د یوه منگل ملگري کیسه درته وکړم چې وایي، هاشم خان صدراعظم ښایي هماغه ۱۹۴۰ م میلادي کلونه راځي، وایي پکتیا کې د دوی سیمې ته منگلو ته ورغلی و، او خلکو نه یې په یوې غونډه کې دوې غوښتنې وکړې: یو چې څو کوچنیان د زده کړو لپاره ورکړي چې ځان سره یې کابل ته بوځي؛ او بل د سړک د تېرولو هوکړه ورسره وکړي. وایي ملکانو سرونه ځوړند کړل، په چرت کې لاړل او ډېر ځنډ نه وروسته، یوه ملک سر را پورته کړ او صدراعظم ته یې وویل: دا لس، پنځلس هلکان موږ په مړو حساب کړل، دا درسره بوځه، خو نوره به د تعلیم خبره نه کوې او سړک مړک هم نه غواړو. دا د هغه وخت تجربه ده، خو کله چې زما د مکتب کلونه شول، په یاد مې دي، مېندو او پلرونو په سیالۍ بچیان ښوونځیو کې اچول، ځای به نه و، نجونې هم شاملېدې. فکر کوم والدینو دا کار د مسؤلیت یا حق له مخې نه کاوه، سره له دې چې حکومت لومړنی تعلیم جبري کړی و، دا یې د گټې وټې یوه وسیله او یو ډول پانگونه بلله، که څنگه استاده؟

دوکتورغني: خبره مو ډېره په ځای ده، ځکه، که د کابل مکتبونو ته هم وگورئ، که د امان الله خان دورې کې وو، یا ابتدا د محمد هاشم خان (ځکه اصلي حکومت د محمد هاشم خان په لاس کې و)، دا ډېر په تدریج مخکې لاړ. او بډایې کورنۍ او سیاسي کورنۍ مینوال نه وو چې خپل زامن او خاصتاً لونې مکتبو ته ولېږي. اما هغه شی چې تاسې ورته اشاره وکړله، خاصتاً پس له دې نه، چې د رحمان بابا، خوشحال خان، دارالمعلمن او ابن سینا لیسې له یوې خوا نه، او له بلې خوا نه حربي ښوونځی، دغه پنځه په کابل کې، او بیا نورې لیسې، خاصتاً ډاکټر قیوم خان د پوهنې د وزارت په وخت کې چې ۱۰۰۰ ښوونځي یو واري ایجاد شول، عرضه و تقاضا یې بدله کړله. ځکه هغه دوره چې تاسې ورته اشاره وکړله، هغه دوره ده چې خلکو ولیدل چې دولت کې گډون په تعلیم تړلی دی. او که په یاد مو وي، هغه دوره د دیموکراسۍ د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه مرحوم په دوران کې، اکثریت والیان، معینان، وزیران او دا... ماستري گانې او دوکتورا گانې یې درلودې؛ نو دلته خلکو ولیدل چې تعلیم په بنیادي توگه وسیله د پرمختگ ده. د کورنیو مسؤلیت باندې پام نه و شوی، او دا یوه غمیزه ده، ځکه ذهنیت دا و، چې مکتب د دولت کار دی، او که ماشوم

مو مکتب ته وسپاره، پس له هغه نه، دا د دولت دی. او په دې ذهنیت، کې یوازې ولس مسؤل نه و، خپله دولتونه مسؤل وو، ځکه چې اساس په آلمان کې هم، فرانسې کې او نورو کې په دې اېښودل شوی - امریکا فرق لري په دې برخه کې؛ چې دا د دولت ځای دی، او دا د دولت وګړي دي، په دولتي نظام به روزل کېږي او دولت کې به ګډون کوي. هغه بدلون چې خاصتاً د شلمې پېړۍ په آخري دوو لسیزو کې، او بیا په یوویشتمې پېړۍ کې راغی، لوی تمرکز د کورنۍ په ګډون باندې دی. او زموږ په اسلامي تمدن کې بله برخه یې جومات دی. هم زموږ ټول مکاتب په اسلامي ارزښتونو باندې و، له حبیبیې مکتب نه چې لومړی مکتب و، تر آخره پورې، ځکه بې له دې نه چې لاس ورکړئ، ارزښتونه په خپل ځای باندې، تخنیکي پوهې باندې نه بدلېږي او تخنیکي پوهه یوازې په ملي او اسلامي ارزښتو باندې نه بدلېږي، د دوی تلفیق په کار دی.

داود جنبش: د مدرسو او د مدرسو د فارغانو او په بشري پانګه کې د هغو ارزښت په اړه، یوه پوښتنه وروسته لرم، که ستاسې اجازه وي هغه به هلته وکړم. یک مسئله مهمی که وقتی تعلیم و تربیه و تحصیل را رابطه میدهیم به سرمایه بشری؛ اینست که، در برخی کشورها درکنار سایر مسائل، تاکید بیشتر بر شاخه مسلکی تعلیم و تحصیل شده، تجارب آنها برای ما، مخصوصاً وقتی رابطه میدهیم اینرا به ایجاد سرمایه بشری، و تقویت سرمایه بشری، چقدر مهم است؟

دوکتور غنی: برای ما حیاتی است، و من تنها یک مثال کوچک برای تان در اول میدهم، بعد از آن میآییم [سر سوال]. فنلند از نگاه رقابت در اروپا در تحصیل ابتدایی و ثانوی، بینظیر است، اما مقدار بیکاری جوانان در فنلند، از ۱۵ فیصد زیادتر بود، چند سال پیش. آلمان، سویس، هالند، کشور های سکندناوی، که سلسله تعلیمات مسلکی دارند، بالعکس، فیصدی بیکاری در بین جوانان ۲ نیم فیصد تا ۴ فیصد بود. حتی مهاجرینی که در این کشورها میرفتند، به زودی جذب میشدند، و این نهایت حیاتی است. از همین جهت، ما تحصیلات مسلکی را، به یک نهاد مستقل بدل کردیم و در مدت بسیار کم، خاصتاً با مشورت یک مشاور آلمانی که سالهای زیاد زندگی خود را وقف کمک با ما کرد در این قسمت؛ رشته‌های متعدد روی دست گرفته شد، چون یکی از فاجعه های معارف ما در افغانستان اینست، که معارف زمینه فعالیت را، در اقتصاد برای محصلین برابر نه کرد، و یک قسمت زیاد کسانیکه مکتب رفتند تا صنف شش خواندند طور مثال بیسواد بودند، و دوامدار غایب می بودند، اما شهادتنامه میدادند شان، و این را بارها من به چشم سر دیده ام. تعلیمات مسلکی نهایت ضروری است، چون پس در رشد اقتصادی جامعه سهم میگیرید، و به حیث یک فردیکه نان آور میشود، نه نان خور تنها، تغییر این موقعیت برای ما حیاتی است. هر بخش اقتصاد را که در گذشته هم سرش صحبت کردیم و در آینده هم سرش صحبت خواهیم کرد، که منابع افغانستان است، ضرورت به تحصیلات مسلکی دارد، که این منابع به زنجیر های ارزش منظم بدل شود و موجب رفاه تمام جامعه، و یک زندگی مرفه برای مردم ما باشد.

داود جنبش: نو په دې حساب که همدغه مسئله د دې تېرو شلو، دوه ویشتو کلونو تجربې ته واړوو، یو خو دا و چې تاسې اشاره وکړه چې مسلکي برخه د زده‌کړو ډېره کمزورې وه، په مجموع کې ښوونیز بهیر کومې ستونزې درلودلې او مثلاً ستاسې په وخت کې ورته څومره کار وشو چې دا لرې شي؟

دوکتور غني: زه لومړی برخې کې به درې ډېرو لویو ستونزو باندې وغږېږم او پس له هغه نه به په تفصیل لاړ شوو ستاسې پوښتنې ته مختلفو برخو کې چې څه مو وکړل. مهمترینه ستونزه د یوې تګلارې نشتون و چې په کیفیت باندې، ملي او اسلامي ارزښتونو باندې، او اوسنیو ضروریاتو باندې، ولاړه وي. د پوهنې وزارت ستونزه وه، نه وسیله! او لویترینه برخه د افغانستان بیروکراسۍ د پوهنې په وزارت باندې تړلې وه. تر آخره پورې، څوک نه پوهېدل چې څومره معلمین دي؟ څومره ښوونځي دي؟ او کوم یې موجود دي او نه دي. ما یوه سروې وکړله، د ولسمشرۍ په ابتدا کې مې، او بیا مې هغه سروې چې پوهنې وزارت راکړې وه، بېرته د کلیو پراختیا د وزارت نه وکړله، ارقام مطلق [متفاوت] وو؛ نو یوه عمده موضوع په دې برخه کې، د معلوماتو نشتون، او له بلې خوا نه، د سمو معلوماتو د ټولولو مقابل کې، ډېره سخته مبارزه روانه وه. ځکه واقعاً نه پوهېدئ چې په ولایاتو کې یو څوک د معلم، د پولیس او د مامور، درې درې برخو کې عین نفر معاشونه اخلي؟ یا دا چې دا مختلف افراد دي؟ تقاعد د مثال په توګه، اسناد یې موجود نه وو چې پوه شئ، دې برخې کې څه دي؟

درېیم یې دا ده، چې عمده اساسي روابط، په پوهنې کې په څه باندې درېدلي دي؟ زده‌کوونکی، ښوونکی، ښوونځی، نصاب، درسي مواد او اداري چارې، او هره برخه کې د دې ستونزې وې، او هره برخه کې، ما واضح اقدامات وکړل، د دې لپاره چې موږ په اساسي توګه مخکې لاړ شوو. د معلوماتو ستونزه یوازې په آخري کال کې، چې د ډیجیټل کېدو طرحه تطبیقېده، نتیجې ته ورسېده، ځکه په هغه کال کې ټوله بیروکراسي ډیجیټل شوله، په دې معنی چې، موږ پوهېدو چې، څوک څوک دی؟ او که یوه میاشت نور وخت وای، موږ به په دې توانېدو، چې ټول خلک تثبیت کړو چې څوک دي؟ چېرې دي؟ او له بلې خوا نه، هم د دې له نظر نه پوهېدای شوئ، د تیلیفون له نظر نه؛ چې آیا ښوونکي موجود دي؟ او موجود په ښوونځیو کې دي یا نه؟ او د هوا له لارې نه، د اقمارو له لارې نه، موږ هر ښوونځی، بېرته ننبه کړی و، چې د هغه په اساس باندې مخکې لاړ شوو. اما مشخصو برخو کې که اوس پوښتنې ولرئ زه به په هغه ترتیب ډېر په آسانه ځواب درکړم، د دې په ځای چې زه عمومي وغږېږم.

داود جنبش: ډېر به ښه شي استاده، موافق یم. یک مسئله ییکه باید در این جا رویش صحبت شود، اینست که، متاسفانه از زمانهای قدیم معلمی یک شغل پر کشش نبوده، و معمولاً – امیدوار استم که معلمین محترم آزرده نشوند – آنها ییکه در بخش های دیگر پیشرفت نمیکردند، جبراً به شغل معلمی معرفی میشدند، با یک معاش بسیار پایین، و از نظر ارزش موقف در یک درجه پائین، از این لحاظ، کسی به رضای خود به شغل معلمی نمی رفت، در حالیکه این اساس ایجاد سرمایه بشری و پیشرف کشور است. از طرح هایی که شما معرفی کردید، در اصلاح معارف کشور، یکی این بود که، استخدام معلمین را از طریق رقابت آزاد تعمیم کنید، من فکر میکنم، نکته اساسی در این زمینه باید این بوده

باشد که، افراد واجد شرایط و معلمین بسیار خوب استخدام شوند، و همچنان، از طریق بلند بردن موقف اجتماعی و اداری، و همچنان بلند بردن معاش آنها، در زندگی اینها یک تغییر کلی ایجاد شود، یا خیر؟

دوکتور غنی: مطلق! من چون معلم استم، هم مسلک‌های من برای شان احترام عمیق دارم، و خاصتاً، میخواهم از تمام استادانم در لیسه استقلال و لیسه حبیبیه، که من تعلیمات پنج سال اول خود را در استقلال، بعد از آن از صنف شش به بعد در حبیبیه انجام دادم، و همچنین هم‌مسلک هایم در پوهنځی ادبیات پوهنتون کابل، ابراز تشکر کنم. ما واقعاً، معلمین با دید بسیار بزرگ و تعهد بسیار بزرگ داشتیم، و کیفیت معارف در دوران ما نهایت بالا بود، این را باید فراموش نکنیم. دربدری ها، مهاجرت و غیره، یک نهادی را که واقعاً ارزش داشت و حیثیت داشت، به مشکلات جدی بدل کرد. از نگاه استخدام معلمین به اساس رقابت آزاد، در چهار سال بین ۱۳۹۷ و ۱۴۰۰ ما توانستیم، زیاده از ۶۳ هزار معلمین محترم را، به اساس رقابت آزاد، استخدام کنیم. از سال ۱۳۹۷- ۱۷۷۰۰، ۱۳۹۸- ۱۸۰۰۰، ۱۳۹۹ - ۱۶۹۶۶و سال ۱۴۰۰- ۱۱۱۷۳؛ و این سلسله اگر به همین منوال دوام میکرد، در ظرف چند سال آینده، تمام معلمین افغانستان، به اساس رقابت واضح و شفاف انتصاب می شدند. و یکی از اصولی که گذاشتیم، این بود، که از برکت تکنالوژی عصری، امتحان مشخص شده بود، دو پارچه امتحان همسان نبود. و این یک حرکت عظیم را به وجود آورد. چون بدبختانه نقاط زهر آور است، باید ذکر شود که فساد در استخدام معلمین یکی از مشکلات عمده ای بود که معلمین محترم همراه من مطرح کرده بودند. و این تنها مشکل معاش و غیره آنها نبود، این بخش را، و همچنین ابعاد دیگر این. اساسات طرح ما این بود،که معلم باید در جامعه دوباره دارای حیثیت واضح شود، و این ارتباط داشت به چند موضوع دیگر. یکی از طرح‌های عمده ما این بود که تمام ولسوالی‌ها باید دارای یک سلسله تعمیرات واضح و مشخص باشند، و همچنین هر ولسوالی افغانستان باید، یک پارک منظم میداشت. و بُعد دیگر این، اول اعمار مکاتب بود و بعد از آن اعمار منازل قابل استطاعت و دوامدار برای معلمین محترم، و همچنین بخش اداری. تمام این ابعاد زیر کار بودند، و بخشی که پیشرف زیاد شده بود، اول استخدام بود، دوم اعمار مکاتب. و در قسمت اعمار مکاتب اگر سوال تان باشد، من در خدمت تان استم.

داود جنبش: کار اعمار مکاتب دقیقاً در کجا می لنگید؟ و کاری را که شما متفاوت تر از دوران ماقبل تان انجام دادید، چه بود؟

دوکتور غنی: وقتی کمیسیون تدارکات را ایجاد کردیم، ماه‌ها وقت ما سر تصفیه مکاتب معارف تیر شد. صدها مکتب بود، که پولش تادیه شده بود [اما کارش تکمیل نبود]. حداقل یکصد و چند مکتب، قطعاً غیر از تهداب یا دیوار، به چیزی دیگر حرکت نکرده بود، و مکاتب دیگری بودند، که بیست فیصد، سی فیصد هم دوام داشت و مشکلات عظیم و فساد گسترده در این بخش وجود داشت.

قسمت دوم این بود که مکتب به مکتب پیش میرفت. هر مکتب قرارداد جدا بود. طرح ما این شد که، در ظرف دو سال ۶۰۰۰ مکتب را در افغانستان یک بارگی، به اساس یک پلان واحد، به وسیله شوراهای همبستگی ملی، که تحت اداره وزارت انکشاف دهات بود، اجراء کنیم. ۲،۶۴۷ مکتب آن تکمیل شد و ۱،۵۴۳ آن تحت ساخت یا نیمه ساخت بود.

از نگاه مصرف، به صورت اوسط، قیمت مکاتب قبل از این طرح ۲۴۰ هزار دالر فی مکتب بود، و قیمت اوسط آن به ۷۷ هزار دالر پایین آمد. یک دلیل معلومدار، وضعیت دشوار امنیتی و حملات متداوم سر مکاتب [بود]، که جریان‌های سیاسی مخالفین کُل تمرکز شان سر از بین بردن مکاتب بود، نه ساخت و ساز آن. و برای این طرح ۱۷۵ میلیون دالر امریکایی تدارک شده بود، و همچنین ۵۰ میلیون دیگر قرض حسنه از دولت عربستان سعودی آماده شده بود، که بدبختانه دفعتاً قطع شد و [حال] حرکت بسیار کم موجود است.

در پهلوی این، ما یک فابریکه خاص پیش‌ساخت را از ترکیه خریداری کردیم، که مکاتب شهری از طرف وزارت شهر سازی تحت ایجاد بود. به این اساس با این طرح یکبارگی مشکل دسترسی مکاتب، عوض این که چهل سال بگیرد، در دو سال تا چهار سال عملی میشد. و قسمت دیگر معلومدار صرفه جویی در مصارف است، که در حدود ۹۸۲ ملیون دالر پس انداز میشد.

و ابعاد دیگر این که ضرورت به رسیدگی به مسکن برای معلمین محترم و ایجاد سهولت های دیگر بود، فراهم می شد. از این نظر، ضرورت واضح است که بالای مکاتب، و نوع تحصیلاتی که اینها دارند، و همچنین استفاده از تمام ساختمان‌های دولتی و ساختمان های مردمی، باید به صورت اساسی یک تجدید نظر شود، تا با شرایط تکنالوژی معاصر یکه به وجود آمده، بتوانیم، به اکثریت قاطع مردم، زمینه تحصیل را فراهم کنیم.

داود جنبش: ما چې تر کومه اورېدل هغه وخت کې، په دغو تېرو شلو کلونو کې، دغه مشکل موجود و، ولایتونو یو بل سره نانډرۍ وهلې. ویل کېدل چې بودیجې ټولو ته یو ډول نه وېشل کېږي، د ښوونکو تشکیل یو ډول نه دی، ځینو ځایونو کې عدالت نه دی رعایت شوی، څومره دا تورونه سم وو؟ څومره سیاسي وو؟

دوکتور غني: دوړاره برخې وې. چېرې چې سم وو، د مثال په توګه، ننګرهار و کندهار مقابل کې، تشکیل مقابل کې، ډېر لوی... ننګرهار و کندهار باندې ډېر لوی ظلم شوی و. دواړه ولایتونه چې د افغانستان له لویو ولایتونو دي، او لوی نفوس په کې پروت دی، د پوهنې وزارت ورسره د مور او د میرې چلند کاوه، تر [څو] چې ما اصلاح کړ. زه مجبور شوم چې خپله مداخله وکړم.

بله برخه یې په احصاییې پورې تړلې ده. په دې معنی چې، د افغانستان د احصاییې اساس ټینګ نه دی. هغه احصاییه چې مرحوم داود خان شروع کړله، تکمیله نه وه، او بیا د خلقیانو حکومت یې اعلان وکړ. بېرته د کرزي صاحب په دورې کې، هماغه اسناد یې اساس ونیوه او یو فورمول باندې نتیجې ته ورسېدل، چې دغه فیصدي د کوچیانو ده او دا

[د نورو]. او دې کې ځينې ولايتونه، دايکندي د مثال په توګه، پکتيکا، زابل لرې پاتې شول. دغلته ده، چې هغه مقاومت او منفي کارونه چې د برقي تذکرې په مقابل کې وشول، يو لوی خنډ و. ځکه که غواړئ چې په قومونو او دې باندې وغږېږئ، واضح [راشئ] احصاييه واخلئ چې څوک څوک دي؟ او فيصدي يې څومره ده؟ زه واضح وايم، کوم ضرورت نه و، څوک مجبور نه و چې ووايي چې کوم قوم پورې تړلي دي. خبره د ولاياتو د نفوس وه او د ولسواليو، او دلته ډېره بې‌عدالتي وشوه. او هغه خلک... زه يې نومونه نه اخلم، ځکه نومونو باندې ضرورت نشته، دا ملي مسئله ده، چې د دې مخه يې ونيوله، او همدارنګه هغه شمېر چې موږ د مصنوعي اقمارو له نظره وکړ، سخت مقاومت وشو چې هغه ونه منل شي. اوس چې ملګري ملتونه يې استعمالوي، هېڅ خبره نه ده، او وايي چې د افغانستان نفوس له ۴۱ ميليونه ډېرتر دی. نو يوه برخه يې واقعاً منفي فکرونه وو، محدود فکرونه وو. او هم د پوهنې وزارت کې، او هم د لوړو تحصيلاتو په منځ کې، او پوهنتونونه، په يو ميدان د دې بدل شوو چې په ژبو باندې او قوميت باندې تقسيم شي. د دې مخنيوی په اساسي توګه په کار دی، ځکه موږ يو ولس يوو. محور ماشوم دی، محور ځوان دی، محور مېرمنه ده، ښځه ده، محور سپين ږيری دی. دا اکثريتونه دي، او اکثريتونو ته بايد په قدر وګورئ او د دوی حقوق بايد خوندي شي. نو دا ستونزې بنيادي وې، په پوهنې وزارت کې. او دومره ملاقاتونه چې ما د پوهنې وزارت سره کړي دي، شايد کوم وزارت سره مې کړې نه وي؛ اما ماته به يې ويل «هو!»، بيا به چې لاړل عملي کول يې نه. زه واقعاً دې برخې کې خوابدی وم، او مجبور شوم چې نور تغييرات راوړم. وزارتونه د دې لپاره دي چې د يو ولسمشر بار سپک کړي. زموږ ځينې وزارتونه داسې وو، چې يو عظيم پيټی و په باقي حکومت باندې، او د پوهنې وزارت د دې په صدر کې و.

داود جنبش: تر کومه چې ماته په ياد دي، نصاب د نصاب لپاره و، نصاب د دې لپاره نه و، چې له متعلم سره، له زده‌کوونکي سره، مرسته وشي، يا متعلم‌محوره نه و.

دوکتور غني: د نصاب موضوع له ټولو نه اساسي ده. لومړۍ خبره چې زه غواړم تاسې ته يې وکړم، افغان ماشوم ما بې‌حده با استعداده پيدا کړ، هم په ښوونځيو کې او هم په پوهنتون کې، لومړي کال ته چې راتلل. واقعاً تږي دي، لکه سفنجونو غوندې دي، هر څه چې ورته وړاندې کړئ، جذبوي يې، اما بِکر فکر لري. دا يوه لويه پانګه وه، مګر له بدې مرغې نه، وګورئ څو مضامين يې بار کړي وو په زده کوونکو باندې؟ کوم بل مملکت دی چې دومره لوی بار په ماشوم باندې اچوي؟

او دويم، نصاب واقعاً د هغو خلکو له خوا ونه ليکل شو، بيا هم زه په ډېر احترام وايم چې، د نصاب متخصصين وو. نصاب په سياسي لوبو باندې بدل شو، مختلفو برخو باندې يې کش کاوه. هغه ارزښتونه چې زموږ ټولنه ورباندې ولاړه ده، او له تاريخ او اوسنيو نړيوالو ضرورتونو باندې، دا ټول بايد سره راوړئ چې نصاب کې راشي. له ټولو نه عمده خبره څه ده؟ د نولسمې پېړۍ او د شلمې پېړۍ نصابونه په دې استوار وو چې يو محدود معلومات بايد تاسې له ياده کړئ – موږ ورته «پخکوغ» ويلې، چې که يو لاين مو د ماشوم نه ګرځاوه بيا به يې ټول لاين خراب شو او ټوکه دا وه چې معلمانو به مو، په لويشت باندې نومرې ورکولې، چې هغه پارچه به يې وليدله چې څو لويشتې ده. خبره په دې

کې ده چې، اوس پس د انټرنېټ ایجاد نه، معلومات ډېر آسانه شوي دي، تمرکز باید د فکر په روزلو باندې وي. یو زده‌کوونکی باید مستقل فکر ولري. باید وکړی شي فکر وکړي چې څنګه معلومات پیدا کړي، نه دا چې معلومات له یاده کړي او محدود وي.

دویم الجبر دی. اساس د اوسنی ټکنالوجی او د اوسني پرمختګ په الجبري فکر باندې دی، او الجبر معلومدار، له اسلامي نړۍ نه لاړ اروپا او امریکا او نورو ته.

دریمه برخه ژبه ده: لیک، لوستل، استدلال، او بله برخه یې ارزښتونه دي. دا باید په یو چوکات کې راوړئ، چې ماشوم ته دا زمینه برابر کړئ، چې خپله وده وکړي، د فکر خاوند وي او د تخنیکي له نظر نه یوه پوهه ولري، حرفوي له نظر نه، چې وکړی شي خپل ژوند پیدا کړي. نو ضرور ده چې له سره باید فکر وشي. څو کاله ضرور دي؟ هر کال قیمت لري هم د زده‌کوونکي په ژوند کې، هم د کورنۍ په ژوند کې، اما له ټولو نه [مهمه]، د ټول ولس په ژوند کې؛ د هر کال بیه څنګه تعینوئ؟ ما چې لیدل په هر کال کې تاوان و، او اوس هم باید فکر وشي، چې په دې طریقې چې موجو دي، څنګه زمینه دې ته برابرولی شئ، چې شپږ کاله که څوک لولي، د شپږ کلو نتیجه باید دا وي، چې وکړی شي د کار بازار کې شامل شي. همدغه رقم پوهنتونونه، ولې دوه کاله نه وي؟

بله برخه یې شفاف امتحانونه دي، لکه چې کانکور بدل شو، د اعتماد موضوع شوله. دغه راز ضرور ده چې موږ نصاب باندې په اساسي توګه فکر وکړو، او ماشوم محوره یې کړو، محصل محوره یې کړو. او معلم صاحبان او خاصتاً اداره، وسیلې دي، دوی هدف نه دي. د ادارې ځای هم ټکنالوجي نیولی شي، نور ابعاد ورته برابرېدلی شي، او د معلمینو ځای هم تیلیفون نیولی شي، اما د ماشوم ځای څوک نه شي نیولی، د زده کوونکي ځای څوک نه شي نیولی؛ نو ضرور ده چې دې ټولو ابعادو باندې فکر وکړئ. او معلم صاحبان، خاصتاً دوی باندې لویه پانګه په کار ده. که دوی دا مسلکي توان لري چې د ماشومانو د دوامدارې ودې لاره برابره کړي، او ماشومانو کې مینه د لوستلو، مینه د پوهې منځ ته راوړي، د هغه ځای بیا څوک نه شي نیولی. زه همدا اوس هم درته ویلی شم چې، زما د ابتدایي ښوونځي او بیا د ثانوي ښوونځي، د عالي ښوونځي معلمان څوک وو او زه همیشه ورته دعاګانې کوم. دا رقم تاثیر چې معلم ایښودلی شي، زموږ په ټولنې کې لوی ارزښت لري او د هغه له نظر نه، د معلم ارزښت باید د حاکم له ارزښت نه، د ولسوال د ارزښت نه، د قاضي صاحب د ارزښت نه او د نورو نه کم نه وي، باید ډېر وي.

داود جنبش: په دغه ترڅ کې د کتاب چاپ او د درسي کتاب د چاپ او توزیع مشکل تر آخره رفع نه شو، موجود و او شکایتونه وو، ولې دغسې وه؟

دوکتور غني: بالکل، دلیل یې بیا هم...، بعضې اوقات دلایل ډېر ساده ښکاري، اما پېچلي وي تر [څو] چې تشخیص وکړئ. دلیل یې دا و چې د افغانستان کتابونه دباندې چاپېدل، ویتنام کې چاپېدل، هندوستان کې چاپېدل، نورو ممالکو کې چاپېدل. د مثال په توګه، د امریکې مرسته چې وه، دا ټوله په دې درېدلي وو چې باید قراردادونه دباندې وي، او

هر کتاب کې چې به ستونزې وې، د املا و د دې نظر نه، یا چاپ کې، بېرته نه اصلاح کېدل. چې وایم آسانه وه او فکر وربادنې نه و شوی؛ دا و چې هم خصوصي مطبعو په افغانستان کې پرمختګ کړی و، او هم خاصتاً یو عظیم ظرفیت په آخري دوو کلو کې، په خپلو مطبعو کې کشف کړ. موږ دوه مطبعې لرو، یوه یې آزادي نومېږي، بله یې د پوهنې یا د معارف مطبعه ده. او پوهېږئ! زرها ټنه زاړه کتابونه په دې کې موجود دي، چې دا بېرته په کاغذ باندې بدلېدلی شي، او حداقل لس کاله، د کتابو د چاپ زمینه [برابرولی شي]. مرسته کوونکو باندې مو په ډېر جبر باندې، د دې زمینه برابره کړه، چې زموږ مطبعو ته قرارداد ورکړي. له بدې مرغې نه،په یوې لویې مطبعې باندې، دوی تور ولګاوه، چې دوی قرارداد کې سم کار نه دی کړی، یا ځیني شرایط یې نه دي برابر کړي. پوهېږئ! ۹۰ فیصده دا دوه مطبعې فعالې وې، امکانات یې درلودل، اما ځکه چې یو ذهنیت راغی، چې دولتي تصدیو سره باید بین‌المللي ټولنه کار ونه کړي، د دې مخه یې نیولې وه؛ نو دا یې یوه برخه ده.

د توزیع له نظر نه، دوه برخې دي: یو، معلومدار لکه چې مخکې مې وویل، تشکیل برخې کې ستونزې وې. دلته په توزیع کې عادلانه چلند نه و، د مور او د میرې و. بله یې امنیتي ستونزه وه، ځکه ځینو شرکتونو د کتابونو د انتقال قراردادونه ترلاسه کړي وو، او دې نه یې، وطنوال به په غرب د افغانستان کې، جنوب غرب د افغانستان کې، له دې نه پوه وي چې، چا د دې انحصار درلوده؟ او دې نه یې څنګه ګټه پورته کوله؟ او نورو برخو کې.

داود جنبش: او داسې کېدلی شول چې مثلاً دا قراردادیان یوه ولایت ته کتاب یوسي، په هر دلیل چې وي، بل ته یې یو نه سي؟

دوکتور غني: هو بالکل، معلومدار! دا ټول موجود دي، ځکه موږ د دې لاره، په دې حل کړله، چې د وزارت دفاع قطارونه چې تلل، د وزارت دفاع په قطارونو باندې مو ډېر کړل. مقصد مې بیا هم ډېر ساده دی: دولت یو دولت دی، ملت یو ملت دی، باید ټولو دولتي امکاناتو نه ګټه پورته شي، چې دا ستونزې حل کړئ. اما وختې چې دا بدلوئ، بدلېږي په جزایرو باندې، او هره جزیره بېل یو بین‌المللي بنسټ سره غږېږي، او خاصتاً دې برخې کې د ملګرو ملتونو چلند مطلق منفي و، د منلو وړ نه و، شفاف نه و، حساب یې نه ورکاوه، اما له بدې مرغې نه وزارتونو کې ننوتلي وو، او موازي کارونه یې کول چې زموږ ګټو سره سم نه وو. نو یوه برخه یې بین‌المللي ستونزو سره تړلې ده، او بله برخه یې خپله ملي، او بله برخه یې په دې ده چې، واقعاً یو ذهنیت راغلی و، د عالي رتبه مامورینو منځ کې، چې منفي رقابت وکړي. یو بل سره نه ټولېدل او ټول بار به په ما باندې و چې دوی ټول کړم سره، او دغه یوه له هغو ستونزو نه ده، چې زموږ په تاریخ کې دوامداره تکراره شوې ده. ځکه که بېرته په دې باندې راځئ، چې د چا حیثیت مطرح دی؟ او څوک له څوک نه پیاوړی دی؟ په دې ذهنیت باندې ولس نه شئ جوړولای او ولس ته خدمات نه شئ کولای. هېڅوک له هېچا نه برتر نه دی. هر وزیر، هر ولسمشر، هر والي د ملت خادم دی، هېڅ نوع بل حق نه لري. او که دې ذهنیت باندې څوک را نه شي، هغه وطن نه جوړېږي. او دا ستونزه په دې کې وه، چې زموږ بشري پانګه له منځه تللې وه، صفر ته، تحت صفر ته رسېدلې وه، او ډېر زر خلک اوچتو چوکیو ته ورسېدل، بې له دې نه چې هغه احساس او

زمینه د تدریجي پرمختګ، چې سړی آشنا کوي او په وطن باندې یې پوه کوي؛ د هغه زمینه وه. نو بنیادي ستونزې موجودې وې، دې نه سړی انکار نه شي کولای او لاره یې په دې ده، چې بېرته په یو ملي، او واقعاً په دې لید باندې [راشئ] چې ټول ولس ته په یوې سترګې وګورئ، د مور او د میرې چلند ورسره ونه کړئ، او ځان مسؤل وګنئ.

داود جنبش: و جهان به سرعت تغییر میکند، مخصوصاً در بخش تکنالوژي هوش مصنوعی یک مسئله جدید است، که میتواند در قسمت معارف و تحصیلات عالی و اینها نقشی داشته باشد. تکنالوژی معلوماتی روز به روز تغییر میکند، دیجیتل سازی وغیره وجود دارد؛ شما هم یک اشاره ای داشتید که یک تجربه کوتاهی از دیجیتل سازی و معرفی تکنالوژی معلوماتی در معارف، در بخش معارف داشتید، نتیجه چه بود؟ مثلاً در کدام بخش موثر افتاد؟ قیمت‌ها را پایین آورد؟ کیفیت را بالا برد؟ مثلاً؟

دوکتور غنی: نکته اول جناب جنبش صاحب اینست، که بدون احصائیه دقیق معلم و متعلم و مکتب، پلانگذاری کرده نمی توانید. تمرکز بی حد اداره وزارت محترم معارف در کابل بود. ضرورت یک فکر بنیادی بالای این بود. و قسمت دیگر تادیه معاشات بود. هر وزارت افغانستان، هر وزارت بزرگ افغانستان، و وزارت معارف بزرگترین بود؛ یک قسمت زیاد مشکلاتش در تادیه معاشات بود. تکنالوژی به ذات خود مشکل‌کشا نیست. در وزارت محترم معارف سیستم های مختلف وجود داشت، که با هم همگام نبودند. مکاتب در یک سیستم قید شده بود، معلمین در دیگر، تادیه معاشات در دیگر. طرح دیجیتل سازی سرتاسری افغانستان، که تمام معاملات پولی را یکبارگی الکترونیک میکرد، تکمیل شده بود و قسمی که گفتیم، پانزده روز دیگر عملی میشد. و همچنین تذکره برقی، هدف ده ملیون بود، پنج ملیون تکمیل شده بود. هر فرد افغانستان باید تذکره برقی داشته باشد، و این زمینه سهولت را برابر میکند. حساب نفوس و حساب تعمیرات، از نگاه بررسی از راه اقمار مصنوعی، زمینه ای را بالآخره فراهم کرد، که ما بفهمیم تعداد مکاتب ما در کجاست؟ به چه اندازه وجود دارد؟ و به چه ترتیب؟ اما یک قسمت از مهمترین راه ها، که هم ابتکارات سکتور خصوصی بود، هم در خود دولت، راه ارتباطات تهیه سیستم عصری، از راه تکنالوژی معلوماتی بود. معلم محترم از راه تکنالوژی کمک می شد. حالا یک معلم محترم را فکر کنید، که میرود درس میدهد، یا ولایات زیاد ما، آیا تعدادی نبودند که خود فارغ‌التحصیلان صنف دوازده متعلمین صنف یازده و دوازده را درس میدادند؟ تکنالوژی معلوماتی اینها را بیکار نمیکرد، زمینه اینرا برای شان فراهم میکرد که ممد شوند. سوالهای متعلمین را به آسانی روز آینده جواب بدهند، چون وقتیکه معلم به صورت اساسی احاطه نداشته باشد،بر نصاب و بر تعلیمات و بر تحصیل، معلومدار همراه محصل وضعیت زشت میکند، این بخش‌هایی است که امکان را فراهم می کند.

و در قسمت هوش مصنوعی، یک انقلاب بزرگ در دنیا در حال جریان است. چند موج تکنالوژی در حال یکجا شدن با هم استند، و به اساس این، آن کشورها و آن ممالکی که در این پیش‌قدم می شوند، فرصت این را داشته می باشند، که صد و دو صد سال عقب ماندگی خود را جبران کنند. و آن ممالکی که بالعکس از این حرکت عظیم – چون سرعت سرعت جت است نه سرعت شتر و کاروان – عقب می مانند، خود را به بدترین وضع عقب ماندگی

مبدل میکنند. قسمی که در یک بحث دیگر هم خدمت شما ارایه کرده بودم، به دیجیتل‌سازی تمام ابعاد خدمات، خاصتاً معارف و تحصیلات عالی یک توجه بنیادی شود، چون غیر از آن، ما هدف رسیدن به یک افغانستان مرفه، با ثبات، مردم محور، دارای حقوق و وجایب مردمی، و دوباره قلب با تپش آسیا در سال ۲۰۴۷ بدل شده نمی توانیم.

داود جنبش: که اجازه وي، مخکې له دې نه چې، د بشري پانگې، دا بحث چې دوو برخو کې مو وغځاوه راټول کړو؛ یوه پوښتنه چې اوسني حال سره د افغانستان، ډېره رابطه لري وکړم، او هغه په بشري پانگه کې د مدرسو او د هغو د فارغانو ځای دی؛ موسی شفیق په «عبقریان» کې تاسې یو ځل مخکې په ځای یادونه کړې وه، د «هفته کوک» په نامه یوه کیسه لري، او هلته د قاریانو یوه ډله انځوروي، چې دوی په جومات کې ناست وي، او منتظر دې ته وي چې کله به کوم ځای کې خیرات وي، چې هلته لاړ شي، له دې امله یې کابل ښاریان (چې دا کیسه په کابل کې وه) د ټولنې د اوږو بار بولي؛ خو شفیق دغلته یوه وړه یادونه، کوي وايي: دوی سره له دې چې د ټولنې یو لوی معنوي بار پورته کوي، په دغه نامه یادېږي. اوس مې پوښتنه دا ده چې، کله چې په بشري پانگه غږېږو، ایا مدرسه او د مدرسې فارغ لکه طالب، لکه ملا، لکه مولوي، لکه قاري، په دغه پانگه کې کوم ځای لري؟ څومره ځای لري؟

دوکتور غني: کافي ځای لري. زه بیا ډېر ساده درته وایم. زما یوازې انجنیر په کار نه و، یا د تکنالوجۍ متخصص په کار نه و، افغان د تکنالوجۍ او مسلمان د تکنالوجۍ متخصص مې په کار و، او دا مې زړها وارې ویلي. مدارسو باندې او پوهنتون په نصاب کې، یو بنیادي فکر په کار دی. تاسې ته معلومه ده چې ۵۰ کلو نه ډېرتر ما د اسلام په مبین دین باندې، او تاریخ باندې څېړنې کړي او خاصتاً دې څو کلو کې مې بیا خپلې ټولې څېړنې تجدید کړي دي. دا هغه معنوي پانگه ده چې د دینیات معلمینو، د قرآن شریف معلمینو او زموږ متفکرینو په ما باندې تزریق کړې ده. دا زموږ په وینې کې تزریق شوې ده. الفت صاحب، بینوا صاحب، استاد بیتاب، حبیبي صاحب، قاري عبدالله، مخکې له هغه نه، خپله محمود طرزي، دا ټول د مدرسې فارغان دي. شفیق صاحب، سمیع الله خان وفایي، نور نومونه... زموږ وطن کې دغه تضاد نه و، برخلاف د نورو ممالکو. ستونزه په دې کې راغلله چې، وختې چې اوقاف چې حداقل د احمد شاه بابا نه تر عبدالرحمان خانه پورې درېیمه یا څلورمه برخه د افغانستان ځمکې په اوقافو باندې تړلې وې، او اوقاف چې سلسله یې ډېره اوږده ده، اول بودایي دورې کې و، پس له هغه نه اسلامي دورې کې، د مدرسو عزت او د جومات عزت او همدغه رقم، د خانقاه گانو عزت، مالي برخې نه، په دغو باندې درېدلی و. هماغه کیسې کې چې شفیق صاحب لیکلې، یوه بله اشاره یې هم ډېره مهمه ده. هغه ویلي دي – او تاسې دا په ډېر ښه الفاظو باندې لوستې درته مبارکي وایم – چې دغه مولوي صاحبان چې لویه پگړۍ یې په سر وې، په یو پوکي یې د وطن نبض بدلولی شو. دې برخې باندې یې هم باید پوه شئ، ځکه اسلام هغه ټینگه حلقه ده چې موږ یې تړلي یوو؛ نو دلته ضرورت د دې دی چې مدرسو باندې واضح فکر وشي، او د مدرسو د فارغ‌التحصیلانو لپاره، باید د ژوند په ټولو برخو کې گډون وي، ځکه د اسلام په مبارک دین کې دا تفکیک نشته. د همدې لپاره زما یوه طرحه په پوهنتون کې، وختې چې ما شرف د ریاست د پوهنتون درلوده، دا و چې یو صفري کال یا لومړی کال ایجاد کړم، چې هغه کې هم اساسي د فکر بنسټونه او هم د

ارزښتونو بنسټونه وي، او ټول باید په یوه فضا کې یوو، چې یوه ملي فضا، ملي ارزښتونه او اسلامي ارزښتونو باندې باورمنده اوسو او په دې برخه کې تضاد ته لاړ نه شوو. د دې تضاد حل کول اساسي دی. مالیزیا او اندونیزیا په دې برخه کې پرمختګ کړی، واضح اساسات یې ایښي دي، او نور عربي ممالک هم نمونه ګرځېدلی شي؛ نو ضرور ده چې په سمه توګه دې کې راشوو او د مکتب او مدرسې تضاد لرې کړو، دا غیر ضروري دی.

داود جنبش: او غواړم د بشري پانګې دا بحث استاده په دې پوښتنه بشپړ کړم چې، موږ ته د یوه ملت په توګه، څه کول په کار دي، چې دوه نیمې لسیزې وروسته، د معاصر افغانستان ۳۰۰ مه کالیزه د بشري پانګې له پلوه، چې موږ پرې دا دوه برنامې دوه پروګرامونه ترسره کړل، له یوه ډېر شتمن او بډایه حالته ونمانځو؟

دوکتور غني: انشاءالله تعالي دا به راتلونکي وي، مګر زه فکر کوم څو قدمه ضروري دي: لومړی یو روایت په کار دی. روایت معنی په دې باندې، چې په ۲۰۴۷ کال کې چې زموږ ۳۰۰ مه کالیزه ده، څرنګه افغانستان غواړو؟ هدف باید واضح شي.

دویم قدم دا دی، چې د دې هدف د پلي کولو لپاره څه رقم بشري پانګه په کار ده؟ څه رقم ظرفیتونه او څه رقم ارزښتونو باندې باید د افغانستان ولس په عامه توګه او خاصتاً ځوانان، آغلې او ښاغلي، په څه ارزښتونو باندې، او په څه مسلکي پوهې باندې سمبال شي؟

دریم، د دې عملي کولو لپاره څه رقم یوه برنامه په کار ده؟ څه رقم یوه ضروري اجماع په دې باندې جوړېږي او وسیله به د دې څه وي؟ او وسیلې باندې چې راشئ باید نظام باندې په اساسي توګه فکر وشي، چې څنګه یو هوسا، باثباته، هدفمند او ولسواک افغانستان لپاره، یو مستقل، قانونمند او ولس ته مسؤل، ولسواکې باندې استوار نظام، څنګه منځ ته راځي؟ چې دا هدف چې یو هوسا افغانستان، پرمختللی افغانستان، او باثباته افغانستان وي، ترسره کړي. او دا یو ملي بحث غواړي. لازمي اجماع، معنی د دې دا نه ده چې سل فیصده ټول په کې راشي، لازمي اجماع هغه ده، چې هغه افراد چې وطن سره یې ت[خیانت] کړی او وطنوال قانع نه دي چې هغوی په راتلونکي کې مثبت رول لوبولی شي، هغوی باندې د نفي خط وویستل شي؛ مګر راتلونکو نسلونو ته او اوسنیو نسلونو ته، باید د ژوند او هوسایی زمینه برابره شي.

داود جنبش: بسیار زیاد تشکر آقای رئیس جمهور، وقت این برنامه ما به پایان رسید، تا برنامه دیگر شما و شنونده های عزیز را، به خداوند می سپارم، د خدای په امان.

دوکتور غنی: از شما تشکر و از تمام شنوندگان تان تشکر.

زنده باد افغانستان، یشه سین افغانستان، تل دې وي افغانستان.